# ٦

# شپږ اصول

## الأصول الستة

(پښتو)

مؤلف

شيخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب

-رحمه الله-

بسم الله الرحمن الرحيم

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام

جمعية الربوة

رواد الترجمة

المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.


Telephone: +966114454900

ceo@rabwah.sa

P.O.BOX: 29465

RIYADH: 11557

www.islamhouse.com

**د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.**

تر ټولو عجيبه، او د زورور پاچا پر توان ستړې دلالت کوونکې نخښې هغه شپږ اصول دي چې الله تعالی عوامو ته دومره ښې روښانه کړې دي، چې د چا په ګمان کې هم نه راځي، بيا لدې وروسته هم له ډېرو کمو خلکو پرته د نړۍ ډېر هوښياران او د بنيادمو عاقلان په کې غلط شوي دي.

## لومړی اصل

دين يوازې الله لره خالص كول چې شريک نه لري، او د دې د ضد بيانول چې له الله سره شريک نيول دي، او اكثريت قرآن كريم له بېلا بېلو لارو دا اصل په داسې ژبه بيانوي چې د عوامو هغه تر ټولو غبي هم پرې پوهېږي، بيا چې اكثريت امت هغسې شو څنګه چې دی، شيطان ورته اخلاص د نېكانو په كم ګڼلو او د هغوی په حقونو كې د تقصير كولو په بڼه څرګند كړ، او له الله سره شرک يې ورته د نېكانو او د هغوی د پيروانو د محبت په شكل كې څرګند كړ.

## دویم اصل:

الله په دین کې پر یووالي امر کړی او له بېلتونه یې په هغه کې منع کړې، الله دا (خبره)تر دومره حده بیان کړې ده چې عوام پرې پوهېږي، او موږ یې له دې منع کړي یو چې د هغو خلکو غوندې شو چې له موږ مخکې سره بېل شول او اختلاف یې وکړ نو هلاک شول، او دا یې یاده کړې ده چې هغه مسلمانانو ته دین کې پر یووالي امر کړی او له تفرق څخه یې په کې منع کړي دي، او دا نور هم له هغه څه سره ښه څرګندېږي چې په دې اړه د خلکو ژبو عجیب او غریب شیان ویلي دي. بیاخبره تر دې ورسېده، چې د دین په اصولو او فروعو کې اختلاف علم او دیني پوهه شوه، تر دې چې دین کې د یووالي خبره کوونکی یوازې زندیق او لېونی وبلل شو.

## درېیم اصل:

بشپړ یووالی په دې کې دی چې د هغه چا خبره واورو او ومنو چې پر موږ مشر شوی دی، اګر که حبشي مریي وي، الله دا خبره په کافي شافي ډول بیان کړې ده، چې هم یې شرعا بیان کړې او هم یې د هغې اندازه ښودلې ده، بیا دا اصل داسې شو چې ډېری هغه خلک ترې ناخبره وو چې د علم دعوه یې کوله، نو عمل به پرې څنګه وي؟.

## خلورم اصل:

د علم او علماوو او فقهي او فقهاوو بیان، او د دې بیان چې څوک علماء نه دي خو هسې یې ځانونه د هغوی په څېر کړي دي، او الله پاک دا اصل د البقرې سورت په لومړیو کې ښه روښانه کړی دی، فرمايي: (ای د اسرائیل (یعقوب) خېلخانې! (تاسو خو لږ) زما نعمتونه در یاد کړئ هغه چې در پېرزو کړي مې دي او ما سره کړې وعده پوره کړئ تر څو تاسو سره په وعده وفا وکړم). " [البقرة سورت، ٤٠ آیت].

تر دې قول پورې یې: (ای داسرائیل اولادې(بیا هم) زماهغه نعمتونه در یادکړئ چې پر تاسو مې پېرزو کړل او دا چې په ټولو خلکو مې غوره وګرځولئ). "[البقرة سورت، ٤٧ آیت].

دا په هغه څه نور هم واضحېږي چې سنتو کې یې په اړه ډېرې روښانه څرګندونې راغلې دي او بې سواده غبیان هم پرې پوهېږي. بیا دا نا اشنا شی وګرځېد، بدعتونو او بې لاریو ته د علم او فقهې نوم ورکړل شو او د دوی لوی کار حق او باطل سره ګډول وو. او هغه علم چې الله پر خپلو بندګانو فرض کړی، د هغه ستاینه د زندیق او لېوني کار شو، او هغه سړی فقیه او عالم ګڼل کېده، چې له دې علمه انکار وکړي، دښمني یې وکړي او هغې نه په ځان ساتنه او منع کولو کې تصنیف وکړي.

## پنځم اصل:

د الله سبحانه وتعالی له لوري د خپلو دوستانو بیان او د دوی او د هغو خلکو تر منځ بېلتون چې دوی سره مشابهت کوي خو په اصل کې د الله دښمنان او منافق او فاجر خلک دي، په دې کې یوازې د آل عمران سورت یو آیت بس دی چې دا دی: **(ورته وایه که په رښتیا الله سره مینه کوئ نو زما (خبره) منئ، الله به هم درسره مینه وکړي)**. "[آل عمران سورت، ۳۱ آیت]

او بل د المائدې سورت یو آیت چې د الله جل جلاله دا قول دی: **(ای مومنانو! په تاسو کې چې څوک له خپله دینه وګرځېد نو ژر به الله داسې خلك راولي چې الله ته ګران وي او الله هغوی ته ګران وي)**. "[المائدة سورت، ٥٤ آیت]

او د یونس سورت یو آیت چې د الله عز وجل دا قول دی: **(واورئ! یقینا څوك چې د الله دوستان دي پر هغوی نه څه وېره شته او نه خپه کېږي)**. "[یونس سورت، ٦٢ آیت].

بیا دا اصل د ډېری هغو خلکو په نزد چې د علم دعوه کوي، ځان له تولو خلکو ډېر په سمه لار بولي او ځانونه د شریعت ساتونکي بولي داسې شو، چې د الله ولیان باید هرومرو د رسولانو پیروي پرېږدي او که چا دا پیروي وکړه نو هغه له ولیانو څخه نه دی، دغه راز جهاد باید پرېږدي او که چا جهاد وکړ نو هغه ولي نه دی، دغه راز ایمان او تقوا باید پرېږدي، نو که چا ایمان او تقوا ټینګ کړل هغه له اولیاوو څخه نه دی، پاکه ربه موږ تا نه بخښنه غواړو، بې شکه ته د دعا اورېدونکی یې.

## شپږم اصل:

د هغې شبهې رد چې شیطان د قران او سنت په ترک او د بېلا بېلو او مختلفو رأیو او نفسي غوښتنو په پیروۍ کې ایښې ده، او هغه دا چې پر قران او سنت یوازې مطلق مجتهد پوهیږي او مجتهد دې ته وايي چې داسې صفتونه په کې وي، داسې صفتونه چې ښايي په ابوبکر او عمر کې هم تول پیدا نه شي. نو که انسان داسې نه وي نو حتما او بې له شک او اشکاله دې له دې دواړو مخ واړوي، او څوک چې په سمې لار پسې ګرځي نو هغه زندیق او یا لېونی دی ځکه په دې دواړو پوهېدل سخت دي.

نو الله لره حمد او پاکي ده چې الله څومره ډېره دغه خبره روښانه کړې ده، هم شرعا او هم د اندازې له مخې، هم د پیدایښت او امر له مخې، چې دا لعنتي شبهه یې له څو وجوهو رد کړې ده، تر دې چې د عامه ضرورتونو تر حده رسېدلې، خو ډېرې خلک نه پوهېږي. "(د هغوی په زیاترو باندې (د عذاب) خبره رښتیا شوې ده نو (اوس) دوی ایمان نه راوړي (7) بې شکه موږ یې په غاړو کې ځنځیرونه وراچولي چې تر زنو پورې یې دي نو سرونه یې نېغ پاتې دي (8)او د هغوی مخې ته مو هم دېوال جوړ کړی او تر شا یې هم دېوال او پرده مو پر (سترګو یې) اچولې نو (اوس) هغوی څه نه ویني (9) او پر دوی برابره ده که ته یې ډاروې یا یې نه ډاروې هغوی خو ایمان نه راوړي (10) ته خو ایله هغه څوك ډارولای شې چې په دې نصیحت پسې روان وي او په غیبو له رحمانه وېرېږي نو هماغه ته د بخښنې او پتمن اجر زېری ورکړه)." [یس سورت: 7 ـ 11 آیتونه]

پای.

والحمد لله رب العالمين وصلى الله على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وسلم تسليمًا كثيرًا إلى يوم الدين.